خانه نو نوی کور

New Home

ISSUE 78 MAY 2024

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبري خدمت دی

A news service for Afghans in America

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture. It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: AFP

# یوناما: طالبانو د تېر حکومت د سرتېرو او چارواکو وژلو ته دوام ورکړی دی

- د یوناما وروستی درې میاشتنی راپور؛ طالبانو د تېر حکومت د سرتېرو او چارواکو وژلو ته دوام ورکړی دی
- په افغانستان کې د ملکي وګړو لپاره خونړۍ جنوري؛ ۷۹ ملکي وګړي وژل شوي او ۶۸ ملکي وګړي ټپیان شوي دي

Illustrator Credit: CVT

## یونما: طالبانو د تېر حکومت د سرتېرو او چارواکو وژلو ته دوام ورکړی دی

یونما یا د ملګرو ملتونو اداري په خپل وروستي درې میاشتني راپور کې، چې د مې په دویمه خپور شو، پکښې ویل شوي چې طالبانو د بشري حقونو سرغړونو او د تېر حکومت د سرتېرو او چارواکو وژلو ته دوام ورکړی. دغه سازمان ویلي دي چې طالبانو د خپل د ښښنې دژمنې سره سره د تیر حکومت د چارواکو او سرتیرو نیولو، شکنجه کولو او وژلو ته دوام ورکړی دی. دغه اداره تیرپینجشنبې په ورځ د ثور ۱۳مه په افغانستان کې د روان کال له جنوری څخه تر مارچ میاشتې پورې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د یوه راپور په خپرولو سره وايي چې په دې موده کې لږ تر لږه ۳۸ قضیې د خپلسري نیولو، ۱۰ د شکنجې، بد چلند او لفظي ګواښونه او لږ تر لږه د غیر قانوني وژنو څلور قضیې د تیر حکومت چارواکو او دفاعي او امنیتي ځواکونو ثبت کړي دي. د دغه بنسټ په وینا، طالبان هره اونۍ د افغانستان په یوه ولایت کې لږ تر لږه یوه د عامه مجازاتو یوه قضیه ترسره کوی. د یونما په راپور کې راغلي چې د جنورۍ له شپږمې څخه تر ۱۱مې پورې په کابل کې په چاودنو کې ۷۹ ملکي وګړي وژل شوي دي. دغه راز په ټاکلي وخت کې ۶۸ تنه ملکي وګړي ټپیان شوي، بل خوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي دفتر مرستیال وايي، په افغانستان کې رسنۍ او خبریالان په یوه ننګونکي چاپیریال کې خپلو فعالیتونو ته دوام وکړی دی. د دې راپور له مخې، د طالبانو له خوا د یو لړ محدودیتونو او د خپل سري توقیف د خطر سربیره، رسنۍ هم د پام وړ مالي ننګونو سره مخ دي. یوناما همداراز یادونه کړې چې په افغانستان کې سږنۍ ښوونیز کال په ښوونځیو کې د ښځینه زده کوونکو له شتون پرته پیل شو، ځکه چې د طالبانو چارواکو د نجونو له زده کړو منعه کړې ده. د منځني ښوونځي او لوړو ښوونځي نجونې د مارچ په ۲۲، ۲۰۲۲ کې ښوونځي ته د تګ منع شوي. طالبان وايي، د نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو لپاره جامع او اسلامي پلان ته اړتیا ده.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

په افغانستان کې له ښوونځي څخه د نجونو د محرومیت په اړه له داخلي او نړیوالو اعتراضونو سره مخ شول، خو طالبانو دغه ټول اعتراضونه له پامه غورځولي او اوس هم په افغانستان کې نجونې ښوونځیو ته له تګ څخه منع دي. د ۲۰۲۲ کال د فبروري په ۳ مه طالبانو له دولتي او خصوصي پوهنتونونو وغوښتل چې د هلکانو او نجونو ټولګي جلا کړي. د طالبانو دې پرېکړې خصوصي پوهنتونونه له سختو مالي ستونزو سره مخ کړل. خصوصي پوهنتونونه مکلف شول چې د نجونو لپاره جلا صنفونه په پام کې ونیسي چې له امله یې خصوصي ښوونځیو ته ستونزې پیدا شوي. په ځینو حالاتو کې طالبانو له پوهنتونونو غوښتي چې د ښځینه محصلینو استادان باید ښځې وي نه نارینه. د خصوصي پوهنتونو د لپاره چې ډېری یې په ښه مالي حالت کې نه دي، د دې پرېکړې عملي کول اسانه کار نه و، خو طالبانو پوهنتونونه اړ کړل چې دغه پرېکړه عملي کړي. طالبان د خپلې دوه کلنې واکمنۍ په موده کې له دې شیانو راضي نه دي. د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۱۹مه طالبانو له ښځینه کارکوونکو وغوښتل چې په کور کې پاتې شي او کار ته نه راځي. د طالبانو له دې پرېکړې وروسته ډېر دولتي کارکوونکي له دندو بې برخې شول. د اشرف غني د حکومت د احصایې او معلوماتو د ملي اداري د شمېرو له مخې، د ملکي خدمتونو ۲۴ سلنه کارکوونکي ښځې وي. د دې اداري په درې میاشتني راپور کې، چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ په اتمه نېټه خپور شو، ښيي چې د دولتي کارکوونکو شمېر ۴۱۲ زرو تنو ته رسېدلی، چې له دې جملې څخه ځه باندې ۱۰۱ زره او ۲۱۶ یې ښځې دي. د دې شمېرو له مخې تر ټولو زیاتې ښځې د ښځو چارو په وزارت کې او تر ټولو کمې یې په خپلواکو کمېسیونونو کې ګمارل شوي وي. که څه هم د ښځو چارو په وزارت کې زیاتره ښځو کار کاوه، خو طالبانو له واک ته رسېدو یوه میاشت وروسته دغه وزارت منحل کړی. طالبانو دغه وزارت د آمر باالعروف او نهی المنکر په وزارت بدل کړی. د تېر وزارت برعکس چې د ښځو د حقونو د دفاع لپاره یې کار کولی. دغه وزارت د ښځو پر وړاندې تر ټولو تبعیضي پرېکړې عملي کړي. د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۸ مه طالبانو د ښځو ورزش غیر ضروري وګڼه. د دې پریکړې پر بنسټ، ښځې په عملي توګه د لوبو کولو څخه منع شوې. طالبانو له دې پرېکړو سره ښځې د ژوند له بېلابېلو برخو لرې کړې.